# په قبرونو د پاسه مه کېنئ او لمونځ ورته مه کوئ

له ابو مرثد الغنوي - رضي الله عنه - څخه روایت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: "په قبرونو د پاسه مه کېنئ او لمونځ ورته مه کوئ".
[صحیح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په قبرونو له کېناستلو څخه منع فرمايلي ده. همدا رنګه يې قبرونو ته له لمونځ کولو څخه منع فرمايلې ده، داسې چې قبر د لمونځ کوونکي مخې ته راشي، ځکه چې دا د شرک لپاره وسيله ده.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee